# د حج او عمرې په اړه لنډ معلومات





ليکونکی : عبدالعلي رسول زاده

# د حج مناسک (ترتیب)

کله چي د حج شپې او ورځي را نژدې سي او خلک حج ته د تلو تصمیم نیسي نو ډېر ځله زما څخه زدکوونکي دا پوښتني کوي: "خلک چي حج ته ځي نو هلته کوم کوم کارونه کوي او کومو کومو ځایو ته ځي"؟

د دې لپاره چي ګرانو زده کونکو او پوښتني کوونکو ته مي جواب ویلی وي نو مي پدې هکله معلومات تر لاسه کړه او اوس یې دلته په لنډ ډول لیکم خدای دي و کړي چي د دوی د قناعت وړ و ګرځي.

دغه لنډ معلومات د حاجي ملا عبدالغني اخوند له کتاب څخه را ټول سوي دي.

عبدالعلي رسولزاده

alirasulzada@hotmail.com
0046709384755

# بسم الله الرحمن الرحيم

حج د مسلمانۍ دپنځو بناوو څخه يوه بنا ده . حج د سعودي عربستان د مکې شريفي او مدينې شريفي په ښارو کې تر سره کيږي . حج دري ډوله دئ چې د دې ليکني په پاى کې به يې ولولئ .

کله چې څوک تصميم و نيسي چې حج ته ولاړ سي نو د دغو لاندي نومونو سره به مخامخ سي لکه :



- تلبيه
- احرام
- ميقات
- محرم
- طواف
- عمره
- د قُدوم طواف
- منى ( منا )
- عرفات
- مزدلفه
- شيطانان

- فرضي طواف
- د رخصتۍ طواف او داسي نور.

## تلبيه :

## لبيک اللهم لبيک - لبيک لا شريک لک لبيک - ان الحمد والنعمته لک والملک - لا شريک لک .

## احرام :

احرام د ښځي او نارينه لپاره فرق کوي . د نارينه احرام تقريبا پنځه متره سپين ټکر دئ چي پر دوو مساوي برخو وېشل سوی دئ . نيمی يې د لونګ په ډول پر بدن را تاوېږي پدې ډول چي (نو) په پټ سي او هغه نوره پاته برخه د اوږو له پاسه پر بدن را تاوېږي او دواړې اوږې ، ځګر او د بدن لوړه خوا په پټېږي . د ښځي احرام سپين کالي او د سر سپين دسمال دئ چي وېښتان ئې په پټ وي او بيا نو سپين پوړنی پر سر کوي . کله چي حاجي صاحب حج ته ځي د حج په هکله معلومات پيدا کوي که نه نو بيا په حج کي د نورو خلکو سره مخامخ کيږي چي هغوی هم د حج په ترتيب نه پوهيږي او دغه حاجي صاحب به هم د هغو په شان کارونه کوي چي بيا به ئې نو د حج ترتيب غلط وي ځکه هلته ډول ډول خلک راځي .

کله چي احرام تړي نو لومړی د احرام نیت کوي او بیا دوه رکعته سنت د احرام کوي. د احرام تر تړلو نه مخکي غسل کول سنت کار دئ. که د غسل کولو امکان نه وي نو بیا اودس تازه کوي او که اوبه نه وي نو بې اودسه د احرام نیت تړي او هغه د احرام دوه رکعته سنت نه کوي. د احرام د سنتو نیت ئې داسي دئ:

(الهي اراده لرم چي ادا کړم دوه رکعته سنت د احرام خاص خدای تعالی لره، مخ مي دئ پر لور د کعبې شریفي الله اکبر) چي سلام ئې و ګرځاوه بیا نو نیت تړي یا د عمرې او یا د حج. دغ دوه نیتونه داسي تړي:

الف ـ د عمرې نیت: الهي اراده لرم د عمرې او احرام مي تړلی دئ په عمره سره چي سنت ده. بیا نو درې واره تلبیه وایي.

ب ـ د حج نیت: الهي اراده لرم د فرضي حج د اسلام او احرام مي تړلی دئ په فرضي حج سره د اسلام، خدایه راته اسانه او راڅخه قبول یې کړې. بیا درې واره تلبیه وایي.

## میقات:

هغه سرحد دئ چي حاجي صاحب باید تر هغه ځای بې احرامه تېر نه سي. دغه سرحدونه د مکې شریفي په شا و خوا کي په مختلفو ځایو کي دي. کله چي حاجي صاحب له کوپنهاګن یا کوم بل

اروپايي هيواد څخه حرکت وکړ نو ميقات په سره بحيره کي دئ. يعني احرام په قاهره يا ايستانبول يا کوم بل داسي ځای کي وهي چي تر سرې بحيري بې له احرامه ور تېر نه سي. ښه به دا وي چي د طيارو په ميدان کي ئې لا احرام وهلی وي. په سعودي کي ئې بيا د مکې شريفي په شا و خوا کي په مختلفو ځايو کي ځلي جوړ کړي دي کله چي سړی د مکې شريفي څخه وزي او تر هغه ځلي تېر سي نو بيا چي مکې شريفي ته را ځي احرام ئې بايد تړلی وي او عمره کوي.

کله چي ئې لومړۍ عمره و کړه بيا کولای سي چي نوري نفلي يا د ثواب لپاره او يا د بل چا لپاره عمره يا عمرې و کي نو د مکې شريفي تر حرم چي را وځي د سړک پر غاړه موټران ولاړ دي نارې وهي: ميقات، ميقات، ميقات.

دغه موټر ئې په يو څو رياله د ميقات مسجد ته بيايي هلته احرام وهي، د احـرام دوه رکعته سنت کوي او بيرتــه پــه هغو موټرانو کي حرم شريف ته را ځي او عمره کوي. هر څومره عمرې چي غواړي، د ځان يا بل چا لپاره ئې کولای سي.

## طواف :

د کعبې شريفي پر شا و خوا اوه شوطه (دورې) را ګرځي که په احرام کې وي او که په کالو کې. طواف د کعبې شريفي د خونې د هغې توري ليکې څخه شروع کيږي چې د حجر اسود له کونج څخه پر مځکه کش سوې ده په داسې ډول چې مخ او ځګر ئې پر حجراسود



برابر وي. بيا نو تکبير وايې: (بسم الله الله اکبر و لله الحمد) او يو وار لاسونه پورته کوي. هېر وي ئې نه چې تر دغه له مخه ئې د طواف تعين کړی وي چې نفلي، د عمرې واجب، د حج فرضي، د قدوم سنت او که د بل لپاره طواف دئ. که ئې احرام تړلی وو نو په لومړيو درو شوطو (دورو) کې اوږې ښوروي او په اوه سره شوطه کې اوږه لڅوي او تر طواف وروسته بيرته اوږه پټه کړي او که ئې طواف په کالو کې کاوه نو اوږې نه ښوروي او د طواف دوه رکعته واجب لمونځ کوي.

پاملرنه:

که ئې طواف د سپېدو او لمر ختو تر منځ و کړ نو واجب ئې تر

لمر ختو وروسته كوي. كه ئې د مازديګر او ماښام د لمانځه تر منځ طواف وکړ واجب ئې د ماښام د فرضو او سنتو تر منځ كوي. ځكه په دغو دوو وختو كي نور لمونځونه نه كيږي او په نورو ټولو وختو كي واجب تر طواف وروسته كوي.

## عمره:

عمره عبارت ده:

- پر كعبه شريفه باندي اوه واره طواف كوي پداسي حال كي چي احرام ئې وهلى وي او اوږه ئې په اوه سره شوطه (دوره) كي لڅه وي او په لومړيو درو شوطو كي رمل (اوږي ښورول) كوي يعني اوږي ښوروي.

- تر طواف وروسته د طواف دوه ركعته واجب لمونځ ادا كوي.

- د صفا او مروا تر منځ اوه (٧) واره ځي او راځي پداسي حال كي چي احرام ئې تړلى وي.

- كله چي ئې طواف، د طواف واجب لمونځ او صفا او مروا وكړه نو نارينه د سر وېښتان خريي، ښځي هم د سر د وېښتانو د څلورمي برخي د وېښتانو څوكي د ګوتــي د يــوه بند پــه اندازه

غچي کوي .
عمره په احرام کي کيږي پداسي حال کي چي لومړی ئې د احرام نيت کړئ وي ، د احرام دوه رکعته سنت لمونځ ئې کړی وي او بيا ئې د عمرې نيت ترلی وي . تر دې وروسته نو لومړی فکر کوي چي عمره ئې بې اودسه نه وي کړې . که ئې ور پياد سوه چي عمره ئې بې اودسه کړې وه، که ئې سر نه وو خريلی نو ورځي بيرته اودس تازه کوي او له سره عمره کوي او بيا سر خريي . که ئې عمره بې اودسه کړې وه او سر ئې خريلی وو نو بيا به پسه حلالوي .

## د قدوم طواف :

د لوی اختر د مياشتي په اومه ورځ که ممکنه وه غسل کوي او په کوټه (اتاق) کي احرام وهي حرم شريف ته راځي او هلته د حج د احرام نيت تړي او دوه رکعته سنت د احرام کوي او بيا د فرضي حج نيت تړي لکه لوړ چي مو و لوستل . بيا درې واره تلبيه وايي او اوه شوطه طواف د طواف قدوم په نامه کوي . که ئې غوښته چي صفا او مروا د حج هم وکي ، کوي ئې چي پدې نو بيا د فرضي طواف په وخت کي د صفا او مروه څخه خلاص وي .

که ډېر زحمت (خلک ډېر وي) وو نو متمتع حاجي ته طواف د

قدوم ور معاف دئ مګر بیا به د فرضي طواف سره صفا او مروه کوي چي هغه بیا د اختر په اوله یا دوهمه او یا دریمه ورځ کیږي، مګر ښه وخت ئې د اختر اوله ورځ ده.

## منی (منا) شریفه:

منی شریفه یو لوی دښت دئ چي هلته د معلم له خوا خیمې وهلي سوي دي. د لوی اختر د میاشتي په اتمه ورځ تر لمر ختو وروسته د معلم په موټرانو کي منی شریفي ته روانیږي او هلته د اختر تر دریمي ورځي پوري پاته کیږي (د منی شپې او ورځې سنت دي). د اختر د شپې (د اختر د میاشتي نهمه) ورځ په عرفات کي تېروي او د ماښام لمونځ د عرفات او مزدلفي تر منځ قضا کوي او شپه په مزدلفه کي چي یو بل دښت دئ تېروي. هلته په مزدلفه کي ۴۹ دانې کوچنۍ ډبري ټولوي. د ډبرو د ساتلو لپاره د اوبو له خالي بوتل څخه استفاده کوي. پدغو ډبرو بیا شیطانان ولي.

## عرفات:

عرفات چي د حج د مراسمو زړه دئ، د لوی اختر د میاشتي په نهمه ورځ حاجي صاحب هلته حاضریږي که څه هم یوه دقیقه وي. د عرفات وخت ۱۸ ساعته دئ یعني د نهم د ورځي تر لمر ختو

وروسته بيا د سبا سهار تر سپېدو پوري. مګر د نهم د ورځي تر زوال د مخه د عرفات مځکي ته داخليده سنت کار دئ. نو که دغه سنت ور څخه خطا سول حج ئې نه په خرابيږي مګر دا چي دونه ډېر زحمت ئې کښلی دئ او دومره ډيري پيسې ئې خرڅي کړي دي نو کوښښ کوي چي حتا هغه مستحب کارونه لا ور څخه خطا نه سي.

که څوک د عرفات په ورځ ناروغه او حتی بې سده وي او پخپله نه سي کولای چي په عرفات کي حاضر سي نو ملګري دي ئې دا مرسته ور سره و کړي او په يو ډول د ډولو دي ئې عرفات ته يوسي چي حج ئې قبول سي که حاضر نه سو نو دغه کال حج ور څخه خطا سو بيا به بل کال حج ته ځي.

د مازديګر تر لمانځه وروسته ئې معلم په خپلو موټرانو کي د مزدلفې شريفي خوا ته بيايي په دغه سفر کي د ماښام لمونځ پر لاري قضا کوي.

يادونه: په لوړو جملو کي د معلم نوم راغلی دئ. معلم هلته چا ته لار ښوونه نه کوي بلکي هغه د حج د سفر ترتيب کوونکی دئ نه رهنما.

## مزدلفه شریفه :

مزدلفه شریفه د عرفات په ځنګ کي یو بل دښت دئ. معلم ئې په موټړ کي ماښام ته هلته رسوي. کله چي مزدلفې شریفي ته را و رسیږي نو هلته لومړی هغه دري رکعته فرض د ماښام چي پرې ایښي ئې وه په دا حاضر وخت د ماخوستن کوي، بیا څلور رکعته فرض د ماخوستن کوي، بیا هغه دوه رکعته سنت د ماښام په دا حاضر وخت د ماخوستن کوي او بیا سنت او وتر د ماخوستن کوي. نور نو دعاوي کوي.

## شیطانان :

شیطانان چي په عربي ور ته جمرات وایي دري دي. اول لوی شیطان دئ، بیا میانځوی او بیا کوچنی شیطان دئ.

د اختر د ورځي په سهار چي د لسم ورځ ده بیرتـه له مزدلفې څخه منی ته د معلم په موټرانو کي ځي. هلته هغه لوی شیطان په اوو ډبرو ولي او پر هره ډبره داسي وایي (لپاره د رضا د الله او د ترټلو د شیطان بسم اللهِ الله اکبر). د دې شیطان د ویشتلو لپاره ۲۳ ساعته وخت لري. او بیا پسه حلالوي او سر خریي او بیا نو احرام خلاصوي او پاک کالي اغوندي او د فرضي طواف د کولو په لټه کي کیږي. دغه ترتیب نه خطا کوي یعني اول شیطان ویشتل،

بیا پسه حلالول او بیا سر خریل.

په دوهمه او دریمه ورځ درېِ سره شیطانان اول لوی، بیا میانځوی او بیا کوچنی شیطان هر یو په اوو، اوو ډبرو ولي.

## فرضي طواف:

کله چي ئې د اختر په اوله ورځ لوی شیطان و ویشتی پسه ئې حلال کړ سر ئې و خرایه او احرام ئې خلاص کړ نو د فرضي طواف په فکر کي کیږي. ښه ئې دا ده چي د اختر په اوله ورځ ئې و کي مګر د اختر په درو سره ورځو کي صحیح دئ. که ئې د قدوم طواف د مخه کړی وو نو اوس په کالو کي د فرضي طواف په نامه و کړي او که ئې د قدوم طواف پخوا نه وو کړی نو اوس به ئې کوي او صفا او مروا هم ور سره کوي. دا نو تقریبا عمره سوه . یواځنی فرق چي یې د عمرې څخه کیږي هغه دا دئ چي دا بې احرامه کیږي.

## د رخصتۍ طواف:

د رخصتۍ طواف واجب دئ. د دې طواف وخت تر فرصي طواف وروسته بیا د مکې شریفي څخه د حاجي صاحب د وتلو تر ورځې پوري دئ. کولای سي چي دستي ئې تر فرضي طواف وروسته و کي د دوی په قدرت پوري اړه لري. کولای سي چي بل

وخت ئې و کي . که ئې دغه طواف و نه کړ نو بيا پسه ور باندي اوړي . طواف د رخصتۍ اوه شوطه طواف دئ او په کالو کي کيږي .

## حج درې ډوله دئ :

١ـ  قِران حج
٢ـ  تمتُع حج
٣ـ  مفرد حج

## قران حج :

هغه حج ته وايي چي حاجي صاحب د احرام د تړلو په وخت کي نيت د عمرې او حج دواړو يو ځای کوي . دغه حج تر ټولو ډېر ثواب لري . د قران حج لپاره چي چا احرام و تاړه تر هغو ئې نه خلاصوي تر څو د حج ټوله مراسم خلاص نه سي . د دې معنی دا ده چي د اختر په ورځ تر هغو چي لوی شيطان ئې نه وي ويشتلی، پسه ئې نه وي حلال کړی ، سر ئې نه وي خريلی احرام نه خلاصوي . دغه حاجي که د حج واجب پرېښودل دوه پسونه به حلالوي .

## تمتُّع حج :

هغه حج ته وايي چي حاجي صاحب د احرام د تړلو په وخت کي نيت د عمرې تړي. کله چي مکې شريفي ته را و رسېدی عمره کوي، سر خريي او احرام خلاصوي. بيا نو کله چي د عرفات وخت را و رسېدی بيا احرام تړي او يا کله چي نوري عمرې کوي. دغه حاجي که د حج واجب پرېږدي يو پسه به حلالوي.

## مفرد حج :

هغه حج دئ چي حاجي صاحب احرام د حج په نيت تړي. کله چي حرم شريف ته راغی طواف په نيت د قدوم د طواف کوي چي دا کار سنت دئ. که ئې صفا او مروا (سعيه) کول، د غه صفا او مروا د حج د صفا او مروا په نامه کوي او سر نه خريي او دغه حاجي تر اختره احرام نه خلاصوي کله چي ئې لوی شيطان و ويشتی سر خريي او دغه حاجي د شکريې پسه نه حلالوي. که ئې حلالاوه نو دا کار مستحب دئ. که ئې دغه صفا او مروه (سعيه) اوس و نه کړه نو بيا ئې د اختر پـه ورځو کي د فرضي طواف سره يو ځای کوي. که ئې طواف په کالو کي کاوه نو سعيه هم په کالو کي کوي. دغه حاجي که د حج واجب پرېښودل نو يو پسه حلالوي.

## د بل چا لپاره حج کول :

ځيني خلک د بل چا لپاره حج کوي . څوک چي د بل لپاره حج کوي ښه حج ئې مفرد حج دئ.

د بل لپاره حج دوه ډوله کيږي . يو ډول ئې دا دئ چي د خپلو پيسو څخه حج کوي او بل ډول ئې دا دئ چي د بل چا څخه ئې پيسې اخيستي وي.

د مخه مو و ويل چي د بل لپاره حج ښه ئې مفرد حج دئ خو دوهم ډول ئې قران حج دئ مګر تمتع حج ئې صحت نه لري.

تمتع حج هغه وخت صحت لري چي د بل چا لپاره د خپلو پيسو څخه حج کوي. او که ئې د بل څخه پيسې اخيستي وي نو تمتع حج نه دئ صحيح.



### مدينه منوره :

مدينه منوره په سعودي عربستان کي يو ښار دئ په کوم کي چي د حضرت محمد (ص)

زيارت (قبر) دئ. دغه زيارت په يوه لوی ښکلي مسجد کي پروت دئ چي د حرم شريف په نامه ياديږي.

حاجيان يا تر مخه د حج تر مراسيمو او يا وروسته دې ښار ته را ځي او په نوموړي حرم کي په ۸ ورځو کي ۴۰ لمونځونه کوي.



عرفات
مزدلفة
منا
طريق رقم ٩
طريق رقم ١
وادى وسيق
وادى العرمان
الخاسرة
جبل الرحمة
جبل الاحدب
جبل الأخشبين
جبل المريخيات
مسجد مشعر الحرام
طريق الطائف
به سوى الطائف
شهرک العوالی
مقیاس : ١:٩٥،٠٠٠
كيلومتر